قانون (۱۹۸۲: ۳۱۶) د ښځينو د تناسلي تنفس کول منع کوی.

# INFORMATION OM KÖNSSTYMPNING

*Pashto*

Sweden

# تناسلي اندامونو ته زيان رسول

**د سويډن قانون (ايس ايف ايس 1982:316) له مخې د ښځو تناسلي اندامونه پرې کول منع دي.** هر هغه څوک چې د دې کار مرتکب شي، هغه ته 10 کاله بند ورکړل کېدای شي، حتيکه دغه کار له سويډن بهر هم شوی وي. تناسلي اندامونو ته زيان رسولو لپاره چمتووالی نيول او د دې هڅه کول هم هغه شان د قانون په ضد دي لکه څنګه چې څوک تناسلي اندامونه ته پر زيان رسولو اماده کول د قانون په ضد دي. که تاسو ته معلومات وي چې د چا تناسلي اندامونو ته زيان رسول کېږي يعني پرې کېږي نو ستاسو لخوا د هغې راپور نه ورکول هم د قانون په ضد دي.
پرته له دې چې څوک د تناسلي اندامونو د پرېکون کار ترسره کوي، د انجلۍ مور او پلار مسؤليت لري چې د دې کار مخنيوی وکړي او په سويډن کې دوی د دې جرم مرتکب ګڼل کېدای شي.

قانون (۱۹۸۲: ۳۱۶) د ښځينو د تناسلي تنفس کول منع کوی.

Polisen

LÄNSSTYRELSEN
ÖSTERGÖTLAND

# پایلې

**د ښځو تناسلي اندامونه پرې کول، چې د ښځې سنتي کول هم بلل کېږي، هغه زیاتی دی چې په ترڅ کې يې د ښځې د شرمګاه خارجي اندامونو کې بدلون راوستل کېږي یا ورته زیان رسول کېږي. دې اندامونو ته د پرېکون له امله څو ډوله زیان رسېږي، او په پاتې ژوند یا په سمدستي توګه لاندې ستونزې پیدا کولای شي:**

- دغه کار په ترڅ کې ډېره وینه بهېدل
- تعفن
- په تناسلي اندامونو کې درد
- تشو متیازو کې ستونزې
- د میاشتنۍ یا حیض په وخت ستونزې
- د کوروالۍ یعني مباشرت په وخت ښځې او هم سړي ته درد
- داسې زیان رسېدلای شي چې له امله یې ښځه حامله کېدای نشي
- د ماشوم په زېږون کې ستونزې
- ذهني ستونزې
- مرګ

# د تناسلي تنفس کولو ډولونه

د روغتیا نړیوال سازمان ډبلیو ایچ او د ښځو د سنتۍ لاندې څلور ډولونه په ګوته کړي:

**لومړی ډول:** بظر او/یا د بظر پوښ لرې کړل شي.

**دویم ډول:** بظر، او دننۍ شونډې (inner labia) او کله کله بهرنۍ شونډې (outer labia) پرې کړای شي.

**دریم ډول:** بظر، دننۍ شونډې (انر لېبیا) او بهرنۍ شونډې (اوټر لېبیا) پرې کړای شي او بیا د فرج یعني د کوس سورى وګنډل شي.

**څلورم ډول:** هغه ټول عملیات چې تناسلي اندامونو ته زیات رسوي، لکه ستنې سر سوري کول.

چې کله د ښځو د تناسلي اندامونو د پرېکون یا زیان رسولو په اړه خبره کېږي نو کله کله د "سنت" ذکر کېږي. تناسلي اندامونو ته هر ډول زیان، د "سنت" په ګډون، غیر قانوني دي.

LÄNSSTYRELSEN
ÖSTERGÖTLAND

Polisen

قانون (۱۹۸۲: ۳۱۶) د ښځينو د تناسلي تنفس کول منع کوی.

*Detta material är framtaget av Länsstyrelsen Östergötland.*